Skolverket

د
د شپږم ټولګي د ابتدائيه
او يا هم د ځانګړو ښوونځيو په اووم ټولګي کې
د زده کونکي مور او پلار يا ساتونکي ته.

# ملي ازموينې

سلام!

دا ليک تاسو ځکه ترلاسه کوئ چې تاسو د يوه داسې زده کونکي مور او پلار او يا هم ساتونکي ياست ، کوم چې د درسي کال په ترځ کې د رياضي ، سويډني او سويډني د دويمې ژبې په توګه غوندې مضامينو کې ملي ازموينې ترسره کوي.

**زده کونکی ولې بايد ملي ازموينې تر سره کړي ؟**

د ابتدائيه دورې زده کوونکي ، د مقدماتي دوري د شپږم ټولګي زده کوونکي او د مينځنۍ دورې د لومړنيوټولګېو زده کوونکي او د دې تر څنګ د اجباري ښونځيو د اووم ټولګي زده کوونکي به په دې آزموينو کې ګډون کوي. دا ازموينې به د زده کونکو د پوهې مساوي او منصفانه ارزونه کوي. دا آزموينې به ښوونکي سره د زدکوونکي په ارزونه او پوهې سره سم نمرې ورکولو کې د د زدکوونکي د پوهې او د هغو ښوونيز اړتياوو او پايلو کې چې په تعليمی پلان کې شتون لري مرسته وکړي.

د دې ازموينې بيلګې د هيواد په بيلابيلو پوهنتونو کې د سويډن د زده کړې ادارې له خوا چمتو شوي. په دې ازموينې کې شته معلومات د هيواد په کچه په بيلابيلو ښونځيو کې تر ازموينښت لاندې نيول شوي. د ازموينې په اړه د زده کوونکو او ښوونکو نظريات را ټول شوي او د ازموينې د بيلګو د جوړولو په وخت کې په پام کې نيول شوي دي.

دا د مختلفو مضامينو لپاره ښوونيز پلان دی ، کوم چې د اړوند موضوعاتو او د آزموينې ډيزاين پر بنسټ ولاړ دی.
مګر د يو مضمون په ښوونيز پلان کې ټول موجوده شيان په يوه ازموينه کې شتون نه لري. ځکه که چېرې داسې وشي نو دا ډول يوه آزموينه به ډېره پراخه وي.

ملي ازموينې کوم خاص ډول کاري تګلاره او يا هم کوم خاص ډول تدريسي مواد نلري. په دې آزموينه کې زده کوونکی بايد له بيلابيلو لارو خپله پوهه څرګنده کړي.

**دا ازموينه به کله ترسره کېږي ؟**

د ابتدائيه او مينځني دورو ملي ازموينې له مختلفو فرعي ازموينو څخه جوړې شوې دي. تقريري برخه يزه ازموينې به د منې دورې په اوږدو کې په لاره اچول کېږي يعنې د ۴۵-۵۰ اونيوو تر مينځ. هر ښوونځی به پخپله دا پريکړه کوي چې فرعي ازموينې د دې دورې په اوږدو کې کله ترسره شي. تحريري برخه يزې ازموينې به د پسرلې دورې پر مهال په يوه ټاکلي نېټه د وزارت معارف په پريکړه په لاره اچول کيږي. دا نومورې ازموينې اجباري دي.

**د ازموینو بیلګې به په کوم ځېر ارزول کیږي ؟**

د ابتدائیه او مینځنۍ دورو ملي ازموینې د ارزونې یو تفصیلي لارښود لري او ښوونکي به دغه لارښود د ارزونې په وخت کې تعقیبوي. کله چی ښوونکی په یو مضمون کې د یو زده کوونکي عمومي پوهې ارزونه کوي نو هغه ښوونکی به د پایلو د ټاکلو نه مخکې د دې ازموینو پایلې هم په پام کې نیسي.

**د پایلو راټولول**

د پوهنې ملي اداره د سویدن د احصایې ادارې په مرسته د ابتدائیه او منځینۍ دورو ملي آزموینو نتایج راټولوي. د پایلو راټولول نه یوازې په ښوونځیو کې د ارزونې لپاره ، بلکه د هیواد ، کمونونو ، اصلي ښوونځیو او خپلواکه ښوونځیو په کچه د پایلو د تحلیل لپاره هم اړین دي.

**ریاضیات**

د ابتدائیه او مینځنۍ دورو ملي ازموینې د ریاضی په برخه له ډول ډول کوچني ازموینو څخه جوړې شوي ، چی په هغه کې د لیکنې دندې ، کوم چې زده کوونکي باید په یوازې سر ته ورسوي ، او شفاعي دندې ، کوم چې زده کوونکي په وړو ډلو کې سر ته رسولای شي ، شامل دي. په دواړو (تحریري او شفاعي) ازموینو کې زده کوونکو ته فرصت ورکول کېږي ترڅو وکولای شي خپل ریاضیکي افکار بیان او تشریح کړي.

**سویډني ژبه او سویډني د دویمې ژبې په توګه.**

د ابتدائیه او مینځنۍ دورو ملي ازموینې د دواړو مضامینو (سویډني ژبه او سویډني د دویمې ژبې په توګه) په برخو کې یو ډول دي او د څو فرعي ډولونو څخه جوړ شوي دي. په دې ازموینو کې هغه دندې شتون لري کومې چې زده کوونکي په یوازې او ګروپي ډول سرته رسوي. د مختلفو دندو له لارې زده کوونکو ته به دا فرصت ورکولې شي تر څو هغوې غږیدل ، لوستول او لیکنې په برخه کې خپلې پوهې ښکاره کړي.

**انګلیسي**

د ابتدائیه او مینځنۍ دورو ملي ازموینې په انګلیسي مضمون کې د ډېرو بیلابیلو برخه یزو ازموینو څخه جوړ شوي. د بیلابیلو دندو له لارې زده کوونکي ته دا فرصت ورکولی شي تر څو انګلیسې ژبې د ویلو او لیکلو په برخه کې خپله پوهه څرګنده او ورسره د انګلیسي ژبې ویلو او اوریدلو پوه شي.

**لا ډېر مالومات له کوم ځای څخه ترلاسه کولای شې ؟**

د ابتدائیه او مینځنۍ دورو ملي ازموینې د مضامینو د بیلګو په هکله لا ډېر مالومات د سویډن د زده کړې ادارې د کورپاڼې پرمخ موندل کیدی شي.

**www.skolverket.se/bedomning**

په دې کورپاڼه کې د ازموینې بیلګو ته لینک هم شتون لري.

Skolverket

د سویډن د زده کړې ادارې سره په اړیکه کې شئ.

nationellaprov@skolverket.se